
# د کورونا پدېدې ته یوه کتنه

ډاکټر لمر


بشري ټولنه له پیدایښته له بېلابېلو طبیعي او غیر طبیعي ګواښونو سره مخامخ کېږي، خو له بده مرغه له دغو پېښو هم په علمي ډګر کې او هم په ټولنیزو پېښو کې د ابن‌الوقت اشخاصو لخوا د خپلو شومو اهدافو لپاره په نښه کېږي، چې خپلو ناماًنوسو اهدافو ته ورسېږي، نو دغه پېښې د خپلو سیاسي، ایدویولوژیکي، دیني، مذهبي، سکتوریستي او حتی قومي موخو لپاره کاروي، چې په دغه لیکنه کې به د کورونا غمیزې تر څنګ دغو ناماًنوسو موخو او شرلاتانیزم ته هم لنډه نغوته وشي.




دا ټولو ته څرګنده ده، چې د کورونا (COVID 19) لومړنۍ پېښه د چین په وهان کې ثبت شوې او په ډېره کمه موده کې یې خپله لمنه په ټوله نړۍ کې خوره کړه، چې ځینو واکمنو او یو شمېر دیني او مذهبي پنډتانو دغه وایروسي پدیده جدي و نه نیوله او دغه بدمرغه پېښه د هر مسلمان، عیسوي، هندو، بودیست، کمونیست، ماتریالیست، سکولاریست، بېوزلي او بډایانو تر پولې ورواښته او له امیره تر غریبه ټول پرې اخته شول، چې د امریکا ولسمشر، د انګریز ملکه، شهزاده او صدراعظم او د کاناډا لومړی مېرمنه ورسره ټکر شول، څوک پرې اخته شو او پر چا یې هم وهم تېر کړ. مسلمان، عیسوي، یهودي، هندو او بودیست له سکهـ سره ټول په یو ټغر کېناستل او خدای ته یې سوال وکړ، چې له دغه وبا یې وژغوري او د بشر نسل ترې وساتي!

نن سبا د نړۍ ۲۰۰ ملکونو کې د کرونا طبیعي عسکر د ځینو ملایانو خبره «الهي پلوشې» خپور دی، چې ځمکنی عدالت پلی کړي، له امیره تر غریبه ټول په کورونو کې له وېرې ترې کرنټین یا پټ دي، څوک په دسکشونو او ماسکونو ځان ترې ساتي او یا ځان هسې غولوي او نور بیا په عبادت آخته دي، چې یو طالب ملا یې بیا داسې شاربي، چې ګواکې نور کله مو اودس په اوبو کولو، خو اوس دا غملړلی صابون هم پکې اضافه شو، یعنې اودس په صابون وکړی، نو له کورونا به ژغورل شوي یاست، هو د تیمُم خو ببخ پکې وتلی.

په غربي نړۍ کې هم ټول نا کراره دي، روغتونونه په کورونا وهلیو ډک دي. ټولنیز فشار دومره لوړ دی، چې کرنټین شوي په کورونو کې په تشنج لاس پورې کړی او په ځینو اروپایي ملکونو کې یو شمېر ډلې راپیدا شوي دي، چې د کورنۍ-ژغورنې مدني بهېرونه یې رامنځ ته کړي، یعنې بز در غم جان کندن و قصاب در غم چربو! له بده مرغه په مدني فعالیتونو کې دغه ناوړه پېښه په ډېرو برخو کې تر سره کېږي، خو د ستونزو اصلي عامل ته د چا پام نه دی.




په اقتصادي برخه کې هم سواستفادې قيامت رامنځ ته کړی، په اسلامي ملکونو کې ورته احتکار وايي او دلته ورته سپيکولېشن وايي، چې د «روز بد برادر ندارد!» په ذهنيت چلند کېږي، د کورونا په پيل کې په افغانستان کې يوه بوجۍ اوړه له ۱۴۰۰ افغانيو ۳۰۰۰ افغانيو ته ورسېده، يوه آيه (هګۍ) له پنځوافغانيو ۱۲ حتی ۱۵ ته پورته شوه، همداسې يې دا نور شيان درواخلی، نو يو ازبکستاني تجار افغاني سوداګران ډېر خراب خلک وګڼل او ويې ويل، چې ازبکستان يوه بوجۍ اوړه افغانانو ته په اته سوه افغانۍ ورکوي، خو افغانان يې له ۲٦۰۰ تر ۳۰۰۰ افغانۍ خرڅوي، نو په افغانانو کې انصاف نشته! بيا دې هم د کفارو خانه آباده وي، چې خپلو لاسپوڅو واکمنو ته يې دومره مرسته وکړه، چې عامو افغانانو ته وچه ډوډۍ د وردګو خبره ټکله ورسېدله، مګر وکيلانو په دغه ډوډۍ هم نخرې پيل کړې!

مګر له ياده مه باسی، چې احتکار يوازې په افغانستان کې نشته، اما په ټولو اسلامي ملکونو کې ورته کيسه روانه ده، حتی په لوېديز ملکونو کې هم سواستفادې په عين شکل روانې دي. په روغتونو کې د دستکش او ماسکونو قلت دی، د لاسونو د ديساينفکشن يا تعقيمولو مايع نه پيدا کېږي، يا يې له مجبوريته غلا روانه ده، خو په تور بازار کې د (FFP3) ماسکونه تر سلهاوو ډالره آنلاين خرڅ شول، يو شمېر روغتونونه ليا هم په دغو ماسکونو پسې سرې سترګې ګرځي، مګر بيا هم چين خپل کار وکړ، ټوله نړۍ يې له ماسکونو ډکه کړله!

په ډېرو طبي موسسو کې د الکهولو او ماسکونو غلا پيل شوه، چې حتی د عاجل عمليات په ترڅ کې د ماسکونو د نه شتون ګواښ رامنځ ته شو. د (FFP3 او FFP2) ماسکونه د ګوتو په شمېر دي، يوازې هغو طبي پرسونل ته ورکول کېږي، چې د کورونا ځيني ناروغ سره مخامخ کېږي او يا يې په درملنه او يا هم عمليات کې ګډون کوي. د ماسکونو تر څنګ د طبي پرسونل لپاره د خاصو جامو يا کاليو کمبود او يا نه شتون يو بل غضب دی.

دلته به يوه ريښتنۍ پېښه ياده کړم. دغه پېښه د جرمني د فرانکفورت ښار په لوی، دولتي او ښاري روغتون کې تېره شوې ده. ډاکتر وايي، ما ته د ماسخوتن په نهو بجو تليفون وشو، چې د يوې ناروغې د پښې رګ غوڅ شوی دی او له مرګېښې خونريزي

سره مخامخ ده، نو ژر عملیات خانې ته راشه، باید تاسو ته یاده شي، چې دغه ناروغه په کورونا هم آخته ده!. ما چې له کوره حرکت کولو، نو موظف طبیب ته مې وویل، چې د عملیات لپاره مشخص کالي، د (FFP3) ماسک او د عملیات بوټونه باید تیار شي او زه په ۱۵ دقیقو کې روغتون ته دررسېږم! د خونرېزي لپاره باید رګ په ګوتو او لاسونو ټینګ ونیسی، چې خونرېزي یې کمه شي.

زه په ۱۵ دقیقو کې روغتون ته ورسېدلم او په ځغرده د کورونا لپاره ځانګړ شوي عملیاتي بلاک ته ورننوتلم. د جامو بدلولو خونې ته ننوتلم، چې ګورم نه (FFP3) ماسکونه شته، نه هم د عملیاتخانې خاص بوټونه شته او د عملیات عادي یو جوړ جامې، چې اندازه یې (XXXXL) وه، چې پرتوګ یې باید په اوږو کې ترل شوی وی، په الماری کې وو. ما خپل عادي کالي ایستلې وو، لوڅ لپړ په یو نېکر کې مې د دغه وضعیت ځار کولو. یوه خوا او بله خوا مې وکتل، چې نه تلیفون کار کولو او نه هم په هغه لوی دهلېز کې څوک له وېرې ګرځېدل، خپل موبایل مې راواخیست او هغه موظف نوکریوال ډاکتر ته مې تلیفون وکړ، چې او بدمرغې دلته ته خو هېڅوک نشته او تا خو نه د کالیو، نه د ماسک او نه هم د بوټونه انتظام کړی او نه دې تیار کړي دي. معذرت یې وغوښت او ژمنه یې وکړه چې هر څه به ژر تیار کړي. په دې کې نورې لس دقیقې هم تېرې شوې. طاقت مې رانغی، خپلې جامې مې بیرته واغوستې، له دغه خونې ووتلم او بیا عمومي دهلېز ته ورغلم، چې په یوې ډاکترې مې سترګې ولګېدلې او ژر مې ورناړې کړې، چې زه باید ژر عملیاتخانې ته ورشم، که وکولی شې، د ښځو له عملیاتخونې یو جوړ بوټ او ماسک (FFP3) راته راوړې او که جامې یو د (XL) اندازه ورسره راواخلي، نو ښه به وي، دې ته دې خدای خیر ورکړي، عادي جامې او عادي بوټونه یې راوړل، خو (FFP3) ماسک هلته هم نه وو.

بیرته د جامو بدلولو کوټې ورننوتم. جامې مې واغوستې او یو عادي ماسک مې خولې او پوزې ته بند کړ، زما سره اندیښنه وه، چې ناروغ د مرګ پر کرښه دی، ځکه خونرېزي یې زیاته ده. کله مې چې بوټونو ته پښه ورنېږدې کړه، نو بوټونه واړه وو، ځکه د ښځو پښې معمولاً وړې وي، خو ما هم پښې ورته لمدې کړې او پلاستیکي بوټونو کې مې ورننیستې! عملیات خانې ته نیږدې یوې نرسې راته د (FFP3) ماسک راکړ، ځکه عملیاتخانې ته پرته له دغه ماسکه د ننوتلو اجازه نه وه. په دې ماسک سااېستنه یو بل غضب وو، خو بیا هم عملیات په خیر تېر شو، هغه ځیرې شوی رګ مې وګنډولو او زه له عملیات خانې راووتم! نو دا مې د کورنا له مخاطرې سره لومړنی تجربه وه. وروسته له ۳ ورځو راته احوال راغی، چې ناروغې سېپسیس درلود، خو کورونا یې نه لرله.

پرته له دغه پېښې تر اوسه له ۳ نورو داسې پېښو سره مخامخ شوی یم، چې د کورونا ټاپه پرې لګېدلې وه، مګر وروسته یې خبر کړم، چې د دغو دریو تنو ټستونه هم منفي ول، یعنې کورونا یې نه درلودله! زه هره ورځ له دې ګواښ سره مخامخ یم، چې له کوروناېي سره مخامخ شم او پرې اخته شم! خو په نړی کې بیا وایې چې په جرمني کې طبابت ډېر مخکې دی، نه وروڼو! د جرمني اخوډب صرف یو تصادف دی! د طبي پرسونل له زړه یو پاک الله خبر دی او بس! همغه خبره چې درونش ما ره کشته او بیرونش مردم!

په ډېرو ملکونو کې اولیه خوراکي مواد هم ورک شول. جرمنان په بېډیا نارې وهلې! په جرمني کې اوړه نشته، کاغذ تشناب نشته، په درملتونونو کې ماسک، دستکش، الکهول او یا دیتول نشته. نو په جرمني کې هم د احتکار بازار لیا هم ګرم دی، سپیکولاسیون خپل اوج ته رسېدلی دی. په اروپا کې ۱۰۰ ملي لیتره د لاس الکهول په ۲۰ آیرو دي، چې پیدا شي. په کاناډا

کې د تشناب کاغذ یو رول په ۵۰ کاناډايي ډالره خرڅ شو، چې معمول یې ۱۰ دانې ۳ ډالره وي، نو دا احتکار نه دی څه دي! دلته هم احتکار شته، ګیله مه کوی، انسان ټول یو ډول دي.

په نړۍ کې په کورونا تر څلورنیم میلیونه زیات انسان آخته دي، چې ډېر یې په اروپا او امریکا کې دي او اوس یې په روسیه پسې هم رااخیستې ده، د مړیو شمېر یې له دریو لکو اوښتی چې بیا هم ډېر مړي په امریکا او اروپا کې دي، خو په نورو ملکونو کې هم د کورنا مړي مخ پر زیاتېدو دي. د امریکا، اروپا تر څنګ اوس په روسیه کې هم د کرونا قربانیان ورځ تر بلې زیاتېږي.

هغه انسانان چې د کورنا ناروغي په ترځ کې مړه شوي دي، د تدفین اندېښنې یې ډېر خلک له فکري ستونزو سره مخامخ کړي دي. په ډېرو ملکونو کې مړي سوځول کېږي، چې هندوان او بودایان هم خپل مړي سوځوي، عیسویان زیاتره په پرمختللیو ملکونو کې ژوند کوي او تکریم او تدفین لپاره خاص امکانات لري، چې په هر ښار کې په لسهاوو د تدفین د مراسمو مرکزونه لري، چې کېدی شي مصاب شوي مړي په ډېره ښه توګه یا ښخ یا یې په کریماتوریوم کې وسوځوي!

رابشو مسلمانانو ته! د اسلامې ټولنې د ٦٠ ملکونو له منځه له سلو زیات یې په جګړه کې ښکېل دي، تاسو به وایی، چې دا سل له کومه شول، نو دا نور هغه مسلمانان دي، چې په نورو ملکونو کې جهاد في سبيل الله کوي، خو ګڼشمېر یې د لوږې په کربښه ژوند کوي. چا راته له هالنډه، بل له انګلستانه او یو شمېر له امریکا زنګ ووهلو، چې آیا روغتونونه کورونا ځپلې مړي یا مییتونه، بیرته فامیلونو ته ورکوي او که نه! د انسان په ماغزو کې هم څه نه دي، چې نه تاوېږي! ښه وایي، چې زه دې مړی ژاړم، ته مې خولې پورې خاندې! طبیبان آخته دي، خلک ژغوري او نور بیا د مړیو تر لاسه کولو غم نیولي، چې په کورونا هم ځان او هم ګاونډی پرې آخته کړي!

له نبکه مرغه، په اروپا کې هغه مییت چې د عقایدو پر بنسټ باید خاوروته سپارل شي، نو په انساني کرامت او د دوی (اسلامې، عیسوي، یهودي) د دین له مراسمو سره سم خاورو ته سپارل کېږي. هغه شمېر خلک چې د دین پر غوښتنو (هندو، سېک یا بودیست) یا هغه شمېر خلک چې د خپلې خوښې په اړوند، وسوځول شي، نو سوځول کېږي، خو د هغوی مړي هم له خاصو مراسمو سره په کریماتوریم کې سوځول کېږي، خو په ټولنیز فکري بهیر کې د «مسلمان وشوې، مسلمان لوی شوې، خو د کرونا له ناورینه هندو غوندې په اور شوې)! پیاوړی شوی دی.

بشر لیا مخکې د مړیو د ځاپېرځای کولو یا خوندي کولو په اړه له فکري فلسفې سره مخ دی، یو شمېر مړي سوځوي، یو شمېر یې ښخوي، نور یې د غره پر سر ږدي، چې مرغان او وحشي حیوانات یې وخوري، نور یې مومیا کوي، خو په بلجیم کې لیا له څو لسیزو په دې فکر کې دي، چې خاص اودانونه جوړ کړي او له یو ډول مایع مواد یې ډک کړي، چې مییت پکې کوز کړل شي، او له پوسته نیولې تر هډوکو په څو دقیقو کې پکې خوړین او اوبه شي، چې بیا دغه تولید شوې مایعې په زراعت کې لکه کود وکارول شي! چې د انرژي یوه بڼه په بله تبدیله شي.

په امریکا کې بیا یو ګام مخکې تللي دي. هلته یو مړی کېدلی شي وروسته له سوځولو، د ۱۵۰۰۰ ډالرو په بدل کې، د سوځول شوي جسد ایرې په مصنوعي الماس واړول شي، چې د کورنۍ لپاره یې د محبوب یاد د الماس په بڼه تلپاتی شي. کورونا هر څه ګډوډ کړل، د تابوتونو بیسنس په کش کې دی، نو د کورونا په غمیزه کې د مړیو شمېر له لکهاوو اوښتی دی، نو کېدی شي، د نوویو فکرونو او نویو طریقو د خوځښت عامل هم شي، چې د مړیو د تدفین چاره په څه ډول تر سره شي، خو په

ملا یې د تدفین مراسم هم په ټکه درولي دي، خو بیا هم دغه یو شمېر کفري ملکونه دي، چې مسلمانانو ته هم د تدفین شرایط برابروي. اما ملا مجیب الرحمن انصاري بیا خلک کورنا ته راټولوي، چې د الهي له غضب سره یې مخامخ کړي او پرې اخته یې کړي، خو دی پورته په ممبر یا د خیر پر غونډۍ ناست وي، دغه نور غمځپلي یې لکه قشلۍ عسکر څنګ تر څنګ کینولي، چې کورونا یې په موندلو ډېر زحمت ونه ګالي، بس تیار یې لاسترلي ورته کینولي وي! د اسرافیل شپېلۍ او د ایزرایل ګوزنډ ته اړتیا نشته.

د مسلمانانو بل مشکل د مییت مینځل او په کفن کول دي. له بده مرغه د کورونا مړي ته نیژدې کېدل په کورونا ډېر ژر مصابېدل دي، چې د ښوربدلو په ترڅ کې یې له سږبو او یا برانشونو د هوا وتل، په پوستکي کې د کورونا خپرېدنه او له ادرار او یا هم غایطه موادو سره د کورونا شننه، د مصابېدو یو ستر ګواښ دی. ځینې د مینځلو ډول ډول میتودونه یادوي، ځینې بیا د تیمم، خبره کوي، څوک په خاصو جامو کې د مییت مینځلو سپارښتنه کوي، ښه ویل شوي، چې (د جنګ خبرې خوږې خو ست یې تریخ دی)! داسې لیکنېزې او انترنیتي دیجیتل سپارښتنې هر څوک کولی شي، خو غم پر هغه چا دی، چې له پېښې سره مخامخ دی، ښه ویل شوي: ځمکه هغه سوځي چې اور پرې بل وي!.

په ورځنیز ژوند کې په لویدیزو ملکونو کې د تکریم او تدفین خاصې موسسې موجودې دي. که یو څوک په روغتون کې ومري، نو په هر روغتون کې یو مییت د یو خاص روزل شوي ټیم لخوا پاک مینځل کېږي، پاکې جامې وراغوستل کېږي او بیا سردخانې ته وړل کېږي، چې د تدفین نور مسایل برابر شي او یا یې فامیل ته ورکول کېږي، چې خپله یې دفن کړي. که څوک کور مړ شي، نو هره ښاروالې هم همدا ډول یو کاري ټیم لري او مییت وروسته له پاکولو، مینځلو او په کفن کولو (دریشي اغوستلو)، خاورو ته سپاري، چې دغه ټول کارونه خاص روزل شوي مسلکي خلک تر سره کوي. همدا ډول د مسلمانانو لپاره هم د دیني غوښتنو سره سم شرایط برابر دي، چې خپل مړي خاورې ته وسپاري.

د مرحوم بابای ملت محمد ظاهر شاه او د شهید سردار محمد داود خان په موده کې یوه دولتي د تکریم او تدفین موسسه په کابل کې فعاله وه، چې خاص روزل شوی پرسونل یې درلود او ګڼشمېر تور رنګي بنس موټرونه، چې د قرآن اعظیم الشان آیتونه پرې لیکل شوي ول، درلودل، چې د هغه زمان د مدبرو رهبرانو کړنو ته نغوته کوي! مګر د غویانو له غوبله وروسته دغه موسسه هم له ۱۳۵۷ کاله له منځه تللې ده، چې خلک نن سبا د کورونا په ترڅ کې له خپلو مړیو سره سرګردانه او نالانه دي.

اوسمهال افغانستان د کورونا له ګواښ سره مخامخ دی، د کورونا وهلیو شمېر یې له ۱۱۰۰۰ تنو اوښتی، خو زما په ګومان ډېر خلک کورونو کې مري او پرته له تشخیصه خاورو ته سپارل کېږي. د مییتونو ښخولو لپاره باید یو دولتي ټیم چې په خاصو وسایلو، جامو او پوهې سمبال وي، چې د تکریم او تدفین مراسم سم تر سره کړي، جوړ شي. په هر ولایت کې، چېرې چې د کورونا خپرېدنه زیاته ده یوه د تکریم او تدفین دولتي موسسه جوړه شي او ټول کورونایي مړي د تدفین یو مرکز ته انتقال او بیا خاورو ته وسپارل شي. ملایان باید له فقهي سره سم یوه داسې فتوا ورکړي، چې د کورونا ځپلیو مړي، چې د شهید مقام لري، پرته له مینځلو په خپلو کالیو یا جامو کې خاوروته وسپارل شي. ټول کارول شوي وسایل باید پاک او تعقیم شي او استفاده شوي توکي لکه جامې او نور لوازم چې د سوځولو وي، وسوځول شي. له بده مرغه کورونا په افغانستان کې کېدلی شي، ډېر ژر نوره هم خپره شي، چې بیا به یې کنټرول نا ممکن وي، نو خلک باید د کرنټین مراحل په پام کې ونیسي او له یو بل سره مرسته وکړي، چې څوک له لوږې ناروغ او یا مړ نه شي.

که ملایان فتوا نشي ورکولی، نو زما بل وړاندیز دا دی، چې یوه ۵۰ متر مربعه کوټه، چې پخه جوړه شي او د کوټې دېوالونه، غولی او پیشتول یې په کاشي پټ شي، د ګرمو او سړو اوبو نل ورته راتېر شي. د کوټې په منځ کې یو وسپینیز کټ د مییت د مینځلو لپاره کېښودل شي او پر کټ یوه وسپینېزه جالی، چې د کټ له مخه تر ۲۰ سانتي متره لوړه وي، کېښودل شي. کټ باید یوې خوا ته نصبي میلان ولري، چې د مینځلو په وخت کې یې اوبه په اسانه آبرو ته ونېنېږي او په مرکزي ناوه کې د تعقیم سیستم ته ولېږدول شي، چې هلته بیا دغه اوبه د ضد عفوني موادو په مرسته له کورونا او یا نورو میکروبونو پاکې شي یا دغه اوبه د څو دقیقو لپاره وخوټول شي او د بیا استفادې لپاره بیرته د بل مییت د مینځلو وړ شي او یاېې په لښتیو کې له سیمې لرې کړي، چې په طبیعي بڼه په ځمکه کې جذب او یا هوا ته تبخیر شي. طبیعي خبره ده، چې دا ډول مراکز کېدلی شي په هره سیمه کې ژر جوړ شي او د کورونا له غمیزې وروسته به په ورځنیز ژوند کې هم دا ډول سیستمونه ګټور وي. د تکریم او تدفین مراسم باید د دولتي بېمې لخوا تر سره شي.

دیني او مذهبي پنډتان لیا کرار نه دي او خلک دې ته هڅوي چې کوڅو ته راووځي، جماعتونه دې وکړي او په هېڅ کې دې ری نه وهي. رحمت او غضب دواړه د خدای له طرفه دي. یو شمېر بیا وایي، چې چینایانو په ایګور مسلمانانو ډېر ظلم وکړ، نو خدای دا ټکه پرې نازله کړه، نور بیا وایي، چې «شرې شود که خیر امت اسلام باشد». باید یاده کړم، چې د چین د ناروغانو او مړینو کچه د امریکا او یو شمېر نورو ملکونو په پرتله ډېره ټیټه ده، خو باید هېره نه کړو، چې د ترکیې هېواد وروسته له امریکا نه د مخاطرې له ستر ګواښ سره مخامخ دی، چې د ناروغانو کچه یې تر یونیم لک اوښتې او د مړیو شمېر یې هم مخ پر زیاتېدو دی. ایران هم د کورنا ځپلیو په سر کې راځي، نو داسې وانګېرئ چې کورونا نه د مسلمان، نه هم د عیسوي او یا هندو ننګه نه کوي.

کورونا نړیوال سوداګریز سیستم له ګواښ سره مخامخ کړ، ټولو لویو صنعتي ملکونو ته یې ډېر ستر نقصونه واړول، خو همدا ډول وروسته پاتې ملکونه هم ترې متضرره شول. له بده مرغه د کورونا وایروس په پدیده کې یو شمېر خلک د تجارتي ګټو نښې نښانې هم ویني، څوک د خوراکي موادو احتکار کوي، څوک هم د درملو یا روغتیایي توکو او همدا ډول د واکسینونو ګټه ګونه هم روانه ده.

په دې کې شک نشته، چې د یو واکسین جوړلول او بیا یې دنیا ته د درملنې لپاره وړاندې کول یو ستر اقتصادي پوتنسیال رامنځ ته کولی شي. د واکسین جوړولو په بهیر کې بېلابېل پرمختللي ملکونه ښکېل دي، چې هر یو یې غواړي چې ژر داسې یو واکسین بازار ته راوباسي، چې هم خلک پرې وژغوري او هم ګټه پرې وکړي. آلمان، امریکا، انګلستان او چین خپل واکسینونه په خلکو آزمېي او د میلاندا ګېټس کمپنې هم د کرونا وایروس د واکسین جوړلو ژمنه کړې ده. په دنمارک کې د تورې ټوخې واکسینونه د کورونا ناروغانو ته ورتزریقېږي، چې د یو واکسین بیه یې تر ۱۳۰ آیرو رسېدلې ده.

داسې ګومان وکړی، چې په دنیا کې ۸ میلیارده خلک ژوند کوي او د مایکروسافټ مشر بیل ګېټس له غوښتنې سره سم، چې هر انسان چې د ځمکې پر سر ژوند کوي باید واکسین شي! یا یې واکسینېزېشن تر سره شي، نو که د یو واکسین بیه ۱۰ ډالره وي، نو د ټولو انسانانو په واکسینولو تر ۸۰ میلیارده ډالره یوازې په واکسین لږېږي او که د لوژیستیکي، طبي، امنیتي لګښتونه ورسره وشمېرل شي، نو خبره به تر تریلیون ډالره هم تېره شي، نو بشري ټولنه باید داسې ګوابنونو ته ځیر شي، چې د دغه دریځونو قرباني نه شي.

پر انسانانو آزمويښې او پر ژوند يې لوبې او پيسې ګټل کومه نوې خبره نه ده. که لږ فکر وکړو، نو ډېر څه به ووينو، چې ځان پرې پوه کړو. د آيفون د اپل کمپنۍ تر ټرېلونه زياته سرمايه لري او د خپلې تکنولوجۍ په مرسته هر ۳ مياشتې نوي آيفونه، آيپدونه او نور بلاوبتر بازار ته راوباسي او موږ هم پرې روږدي يو، له يوې خوا ضرورت دی، ځکه زاړه آلات خپل کيفيت د وخت په تېرېدو له لاسه ورکوي، له بلې خوا د هر شخص لپاره يو بوديجوې ګواښ دی، چې هسې ډېرې پيسې پرې ورکوي!

د مايکروسافټ کمپنۍ تر ډېره مودې هر څه انحصار کړي ول، چې سرمايه يې تر ۲۰۰ ميلياردو ډالرو زياته ده. بيل ګېټس د خپلې مېرمنې په نامه يوه خيريه موسسه لري، چې په ځينو ملکونو کې خپلې بشري مرستې کوي، خو تر څنګ يې ځينې داسې وړانديزونه کوي، چې کېدلی شي، د نړۍ ټول بشر له مخاطرې سره مخامخ کړي. بيل ګيټس مخکې وړانديز کړی وو، چې د هر انسان په بدن کې کېدلی شي، يو چېپ ځای پر ځای شي، چې په اړه يې ټول معلومات ثبت شي او د نړۍ په هر ګوټ کې کنټرول شي، يعنې لکه اوس چې حيوانات د چېپ په مرسته کنټرولېږي، نو انسانان به هم تر کنټرول لاندې وي، يعنې هغه آزادي چې خدای ورکړې، ترې بې برخې يې کړي. د کورونا د وايروس د واکسينونو په اړه د بېل ګېټس وړانديز پرته له سمو علمي، تحقيقي او کلنيکي څېړنو، همدې ته ورته دی، نو خلک بايد هوښيار اوسي.

د ميلاندا (بيل) ګېټس کمپنۍ د (RNA) د کيمياوي ځانګړتياوو پر بنسټ د داسې واکسين چې د (RNA-Vacicn) په نامه يادېږي، د جوړولو پلوي کوي او غواړي، چې دا ډول واکسين ژر تر ژر مارکېټ ته راووځي. د دغه ډول واکسينونو تجربه له ۲۰ کلونو راهيسې په علمي موسسو کې شته ده، مګر تر ننه يې کومه خاصه نتيجه نه ده ورکړې، چې ښې بېلګې د (HIV) يا ايډس او دې ته ورته (RNA) لرونکې وايروسونه دي، چې د ۵۰ کلونو په ترڅ کې ورته واکسين جوړ شوی نه دی، مګر تداوي يې په وايروستاتيکونو تر کنټرول لاندې راغلې ده. د (RNA) په جوړښت کې يو شمېر ريبونوکليوتيدونه لکه اوراسيل د ادينين سره او ګوانين د سيتوزين سره غبرګ وي، لري، خو په (DNA) کې بيا ديساوکسي ريبونوکليوتيدونه لکه آدينين له تيمين او ګوانيدين له سيتوزين سره خپل جفت جوړوي، خو (RNA) زياتره يو ځنځيرېز وي او (DNA) تل دوه ځنځيريزه وي، چې د ځنځيرونو تر منځ هم اړيکيز بندونه لري، چې د (RNA) په پرتله يې جوړښت مستحکم وي.

د (RNA) واکسينونو خطر په څه کې دی. د بشر د جينوم (ګينوم) له سپړلو او تثبيتولو وروسته له ۱۹۹۸ ميلادي کاله يې ډېرې علمي او ايتيکي اندېښنې او د علم په ډګر کې اخلاقي پوښتنې رامنځ ته کړې. د جنيتيک انجينيري (جين انجينيري) پر بنسټ انسان په دې واکمن شوی، چې هر ډول مخلوق کلون کړي، چې آزموينه په پسونو او سويو تر سره شوې ده او د دغو حيواناتو کلونونه (ورته يا مشابه موجود) جوړ شوي دي. د دې ګواښ يا امکانات هم شته، چې د نړۍ له مخه د منقرض يا له منځه تللو حيواناتو بيا رغونه هم ممکنه شي.



د هايبريد (دو رګه) له پروسې سره بشر په طبيعي شکل مخامخ شوی دی، چې بيا يې دغه پروسه کاپي کړې ده. په طبيعت کې د سپيو، ليوانو، شغالانو او همدا ډول د پړانګ او زمري هايبريدونه رامنځ ته شوي او بيرته له منځه تللي دي، خو همدا ډول په تحقيقاتي مرکزونو کې هم دا ډول هايبريدونه رامنځ ته شوي دي. په عامو خلکو او په افغانستان کې هم ښه بېلګه کچره (قاطر) ده، چې د آس او خره او يا هم برعکس لکه يو هايبريد رامنځ ته کېږي.

په نباتاتو، ونو، ګلانو کې هم د هايبريدونو (دورګه) را منځ ته کېدل کومه ځانګړې پېښه نه ده، چې وايي «ګل له ګله رنګ

اخلي!»، يعنې په طبيعي بڼه بېلابېل ګلونه رامنځ ته کېږي، چې د جينيتيکي دايورسيتي ټيوري بنسټ هم د طبيعي هايبريډونو يوه برخه ده. د ونو په پيوند کې يا د دوو ميوو يو ځای ښخول هم د دې سبب کېږي، چې يوه مېوه لکه د انار دانه په نارنج او يا مالټه کې وده وکړي يا د مڼې ونې ته د ناک پيوند ورکړل شي يا په مڼه کې ملټه وده وکړي.

په انسانانو کې هم د نر سپرم او دښځې تخمه په لابراتوارونو کې يو ځای کېږي او وروسته له القا د ښځې په رحم کې کرل کېږي، چې بيا ښځه حامله کېږي او اولاد راوړي. د درمل په مرسته کېدلی شي، چې زړې ښځې، چې حتی وروسته له وچېدو هم وي، په دې وتوانېږي، چې اولاد دونيا ته راوړي، خو دلته يوه پېښه د يادولو ده. په بشري ټولنه کې او عبراني اديانو کې د بشر پلار آدم (ع) او مور يې بي بي هوا (رض) ياد شوي دي. د بشر د جينوم د سپړلو او څېړنو په بهير کې دا په ګوته شوې ده، چې انسان له يوې مور څخه پيدا شوی دی. دغو څېړنو ښودلې ده، چې يوه مور خپلې لور ته له خپلې تخمې سره د (DNA) تر څنګ نور جينيتيکي مواد د سلول يا تخمې له اورګانلونو، ليزسومون، ميتوخاندرياو سره ورانتقالوي او د ګولجي آپارات په جوړښت کې هغه پروټينونه لور ته ورانتقالېږي، چې جينيتکي ارزښت لري، چې دغه لېږدونه صرف يوه مور يې خپلې سکنی لور ته ورلېږدولی شي.

اوس راځم هغه ايتيکې او دبشر د جينوم د نه ګډوډېدو پوښتنې ته. کله چې يوه مصنوعي القا رامنځ ته کېږي، د ځينو ميندو د القا شوې تخمې د رشد او تقويې لپاره د سالمې مېرمنې په تخمدانونو کې د فاليکولونو له اورګانېلونو څخه استفاده کېږي، چې د ميکروسورنجونو په مرسته د يو فاليکول مواد ايستل کېږي او د القا د تقويې لپاره تخمې ته ورانتقالېږي، چې دغه پېښه د جينيتيکي موداو د مدخلېدو او له بلې مېرمنې سره يې د ګډېدو امکانات رامنځ ته کوي، چې د ميتوخوندريا (DNA) او نور يو شمېر خاص ارثي مواد بلې ښځې ته ورتېر شي، چې د ارثي موادو د ګډېدو سبب کېږي، چې مور يې په عاقبت نه پوهېږو. مصنوعي القا اوس په نننی روغتيا پالنه کې يو معمول ګرځېدلی دی، چې د يو نوي ماشوم په جوړښت کې د دريو تنو جنيتکي يا ارثي مواد تثبيتېږي، چې دې ته د انسان په طبيعي جوړښت کې د مډرن طبابت مداخله ويل کېږي، خو ځينې ورته پرمختللی علم يا ساينس وايي.

کېدی شي په سلو او يا څو سو کلونو کې داسې حالت رامنځ ته شي، چې بشر د ښځو په جينيتيکي مواد کې، چې اساس يې د يوې مور (ښځې) تخمه ده، د بلې ښځې يا ګډشوي جينيتيکي مواد هم وموندل شې او دغه د انسان مداخله د انسان په جنيتيکي خصوصياتو کې کولی شي، د څېړنو بهير مشکل کړي، چې وښودل شي، چې بشر د يوې مور(بي بي هوا) له لمنې پيدا شوی دی، يعنې چې «د آدمه تر دې دمه» بي بي هوا د بشر مور ده، دغه د حقيقت تيوري، کېدی شي وګواښل شي.

د انسان تر څنګ د حيواناتو او حتی د حشراتو او ميکروبونو په جينيتيک کې مداخله کېدلی شي له يوې خوا بشري ټولنه وژغوري، مګر له بل پلوه کېدی شي داسې ميکروبونه او يا وايروسونه رامنځ ته کړي، چې پر ځمکه د بشر د ژوند ګواښ رامنځ ته کړي، چې عاقبت به يې بشر ته يو بل قيامت وي. د ملاريا پلازموديم هم د نړۍ په مشخصو ځايونو کې رشد کوي او د وينې په سورګرديو يا آيرېتروسيتونو کې وده کوي او د هغوی پر پوښ باندې داسې خپل پروټينونه جوړوي، چې وکولی شي په رګونو کې ځانونه سرېښ کړي او خپل تکثير ته دوام ورکړي، خو په يو شمېر خلکو کې، چې د (Sickle cell animia) يا دغه ځانګړې کمخونې چې ارثي ده، لري، نو د ملاريا پلازموديم د دغه ارثي مرګونې ناروغې په ترڅ کې وده نه شي کولی، ځکه د ملاريا پلازموديمونه د کږو اريتروسيتون پر پوښ خپل پورټينونه نه شي جوړولی او په توري (تلي) کې دغه کاږه واږه اريتروسيتونه له

منځه ځي، چې د ملاریا پلازمودیم د رشد او تکثیر موقع نه تر لاسه کېږي. باید یاده شي، چې د ملاریا د پلازمودیم د ودې او تکثیر لپاره د دوو اونیو په ترځ کې د چاپېر حرارت (تودوښه) باید د سانتي ګرېد له ۲۷ درجو نه کمه نه وي. عالمان له لسیزو په دې آخته دي، چې د ملاریا پر ضد داسې واکسین جوړ کړي، چې د ملاریا غوماشې یو او بل سره وخوري او یا یې جنیتیکي حالت داسې واړوي، چې نسل یې له منځه لاړ شي یآ د ملاریا ناروغي د رامنځ ته کولو توان ولري!

نو د جینیتیکي موادو پر بنسټ واکسینونه کېدلی شي، بشر له داسې ګواښونو یا ارثي تشنجاتو سره مخامخ کړي، چې د وخت په تېرېدو سره هغه خصوصیات چې په طبیعي بڼه ورکړل شوي دي، له منځه لاړ شي او انسان د ډېرو ناروغیو او طبیعي آفتونو سره د مبارزې مقاومت و نه لري او د دې اندېښنه شته، چې د انسان نسل د ځمکې له سره تری تام شي، نو هر واکسین د جسم ژغورنه نه شي کېدلی! هر څوک باید یو ځلې ځیر شي، چې ولې اکثریت خلک د وُږي، مني او ژمي په موسم کې په والګې یا زکام آخته کېږي! نو د ربړش عامل هم یو (RNA) لرونکی وایروس دی! مګر ساینس تر اوسه په دې توانېدلی، چې انسان له زکامه وژغوري! او یا دا چې هر کال یو نوی واکسین جوړ کړي!

د ارثي موادو یعنې (RNA) او (DNA) پر بنسټ د رامنځ ته کېدلو واکسینونو ګواښ دا دی، چې په ناڅاپي بڼه کېدلی شي، له واکسین سره داسې جینیتیکي مواد د انسان بدن ته ورداخل شي، چې په آسانۍ د انسان په جینوم کې ځاي پرځاي شي، ځکه داسې یو واکسین کېدلی شي په خپل جوړښت کې داسې پروتینونه ولري، چې د سلول په جینوم یا ننوځي او یا هم داسې جنیتیک جوړښتونه رامنځ ته کړي، چې د انسان د جینوم موتاسیون یا ځانګړی ریپلېکشن رامنځ ته کړي، چې له دې سره د سرطاني ناروغیو، ارثي ناروغیو او یا سوُشکل یا معیوبېدو ګواښ موجود دی.

په نړۍ کې یو شمېر ملکونه آسوده ژوند لري، خو یو شمېر اشخاص د نړۍ مادي شتمنۍ کنټرولوي او زبرځواکونه بیا د نړۍ د مادي زېرمو د کنټرول په لټه کې دي، خو په وروسته پاتیو ملکونو کې بیا د نفوس د زیاتوالو پدیده په ځغرده روانه ده، چې مخکې یادشوې ډلې د نړۍ د نفوس ګواښ ځانته یو ناورین ګڼي، ځکه د نفوس د کنټرول په اړه په پراخه پیمانه تبلیغ کوي، چې د نړۍ د نفوس تعداد تر کنټرول لاندې راشي، نو د دې امکانات شته، چې د واکسینونو په ستراتېژۍ کې د یو شمېر سیمو خلک په واکسینونو شنډ کړي، چې د نفوس د ډېرېدو مخه یې ونیول شي.

څنګه چې ټولو ته څرګنده ده، د نړۍ زیات شمېر خلک په چین، هند، اندونیزیا، پاکستان او افریقا کې ژوند کوي، مګر چین یو مقتدر او هند نسبتا مقتدر هېوادونه دي، نو په دغه دوو ملکونو کې د غرب هوسا ټولنه چنداني اغېز نه شي پرېښودلی، مګر دغه دوه ملکونه له نورو غربي صنعتي ملکونو سره یو ځاي غواړي د نړۍ وروسته پاتې ملکونه تر خپل سیوري لاندې راولي او طبیعي خبره ده، چې په دغو ملکونو کې د نفوس کنټرول د دغو ملکونو یوه اوږدمهاله ستراتیژي ده. په چین کې تر ۴۰۰ میلیونه ځوانان مجرد د روسیې سرحد ته یو ګواښ دی، که په روسیه ورننوځي، نو د سابقه شوروي ټول اقمار به په یو وار ډک کړي او هري ښځې ته به ۳ تر ۴ مېړونه ورسېږي، چې بیا به ټول چینایان وي، نو دغه مملکت له داسې ګواښ سره مخامخ دی! افغانستان یو وړ مملکت دی، که چینایان پر پامیر پر هر وګړي یو ګیلاس اوبه هم را خوشې کړي، نو افغانستان تر اوبو لاندې کېږي.


بله موضوع د واکسینونو ده، په پټه سترګه د واکسینېزشن پروسه منل، کېدی شي نور ګواښونه هم رامنځ ته کړي. له بده مرغه د افغان دولت هر لوړ پوړی چارواکی د څو مشدیو په بدل کې کولی شي، د خپل هېواد ټول خلک وپلوري او د خپل خلک د

ړندو واکسینونو قرباني کړي. لکه نن سبا چې یې د کابل د ښونځیو نجونو ته یو ډول تابلیتونه وېشلي ول، نو کېدی شي یو شمېر ډلې د دې پلوي وکړي، چې د نفوس د کنټرول لپاره په افریقا، آسیا او ډېرو سیمو کې د نرانو او ښځو د شنډېدو د واکسینونو پروژه تطبیق کړي. په افغانستان کې هم ډېر داسې سیاستوال شته، چې د ځو مشدیو لپاره خپله سکنۍ مور هم پلوري.

نو دغه پورتنۍ د موضوع سپړنه د دې لپاره وه، چې د بشر په جینوم کې د جینتیکي واکسینونو، چې بنسټ یې (DNA) او یا (RNA) وي، د کارولو ګواښونو ته پام وشي. کېدی شي د بشر په جینوم کې د میکروبونو سره د مبارزې یا تداوي لپاره  داسې واکسینونه وکارول شي، چې د بشر جینوم له ګواښ سره مخامخ کړي او یا داسې حالت رامنځ ته کړي، چې د جینیتیکي موتاسیون سبب وګرځي، چې عاقبت به یې د انسانان لپاره ډېر له مخاطرې سره ډک وي.

## د کورونا وایروس او نړۍ

خبره دې ته راورسېدله، چې دا کورونا لیا څه بلا ده، چې لکه ټکه پر انسانانو راولوېدله، چې په نړۍ کې نن ورځ تر ۵ میلیونو زیات انسانان په رسمي بڼه پرې اخته دي او له دریو لکوو یې ډېر وژلي دي. کورونا چې نه یې سر معلوم وو او نه یې هم پای څرګند دی! خو بشر وارخطا دی، چې د انسان نسل د ورکېدو له ګواښ سره مخامخ دی او که نه! د درمل یې لیا څرک نه لګېږي، چې څه به کېږي، نو څوک نه پرې پوهېږي.





د کورونا وایروس په اړه ډېرې لیکنې شوې دي، د ځینو ماخذونو پر بنسټ تر ۴۰۰۰ هم ډېرې لیکنې خپرې شوې دي، خو په علمي ډګر کې بیا د ۲۰۰ هغو لیکنو چې په چین، امریکا، جرمني، روسیه، ایران، پاکستان او یو شمېر نورو ملکونو د علمي موسسو لخوا خپرې شوې دي، دلته به یې یوه سپړنه وړاندې شي، چې عام خلک هم پر دې پوه شي، چې کورونا څه شی ده، څه یې عواقب دي او موږ له کومو ګواښونو سره مخامخ یو او پرمختللې نړۍ څه کوي.

کورونا وایروس موږ له ۵۰ نه تر شپېتو کلونو مخکې پېژنو، چې مخکې هم د دغه کورونا وایروس (COVID)، چې تاجداره وایروس (تاجی) هم ورته ویلی شو، ځینې پېښې ثبت شوې وې، خو دا ځل یې یوه نوې بڼه رامنځ ته شوې، چې د انسان عفوني سیستم ورسره ګواښمن شوی دی، چې د نړۍ تر ۵ میلیونه زیات خلک پرې اخته دي، ۲۵ ٪ یې ترې روغ شوي دي، په ځینو سیمو کې له ۵ تر ۱۰ سلنه ترې مړه شوي دي. د کورونا ناروغي په بهیر کې تر ۸۱ ٪ ستونزمنه ناروغي تېروي، ۱۴ ٪ ډېر

سخت ناروغېږي او ۵ ٪ کېدلی شي، بحراني حالت ته ورسېږي او له ټولو ناروغانو له ۲ تر ۳ سلنه مري، دغه مرګو مير په ډېرو سيمو کې يو شان نه دی.

په هر يو میلیون خلکو کې، په ایټالیا کې تقریبا ۵۰ تنه، په ایران او اسپانیا کې ۱۴ تنه، په فرانسه او هالنډ کې تر ۴ تنو، په چین کې له دوو تر دريو تنو مړه شوي دي، خو تر ټولو لږ په جرمني کې مړه شوي دي. په نړۍ کې تر اوسه له دريو لکو ډېر خلک له کورونا مړه شوي دي، چې تعداد يې ورځ تر بلې زیاتېږي.

د کورونا وايروس تخمیني کچه ۱۲۰ نانومیکرون ده، چې د (RNA) لرونکی جینوم يې تر ۳۰۰۰۰ نوکلیوتیدي يو ځنځير لري. د پوښ تر څنګ د (SP, MP, EP) په نامه بېلابېل پروتينونه په خپل جوړښت کې لري، چې د (RNA) تر څنګ د دغو پروتينونو پرضد د واکسین جوړولو امکانات پکې لیدل کېږي. دغه وايروس د هوا له لارې د سږمو او يا هم د خولې له لارې تنفسي مری او همدا ډول سږيو ته رسېږي، چې د وايروسي پنوموني يا سينوبغل ګوانې ورسره مل دی، چې سږي د وايروسي وربځو په بڼه لکه کېږي. د ساتنګې له امله کېدلی شي يو څوک په ناڅاپه بڼه مړ شي. په دې ناروغي کې د سترګو ناروغي او نسناستی هم کېدی شي رامنځ ته شي، د يو شمېر خلکو ذایقه او شامعه احساس هم ګډوډ شي يا له منځه ځي.





يو انسان له وايروس سره له مخامېدو وروسته د اينکوبېشن (پخېدو) دورې په ترڅ کې د ناروغي هېڅ نښې نه لري، چې دغه موده له ۱۰ تر ۱۴ ورځو پورې دوام کوي، چې د ناروغي د خپرېدو يوه پټه خو خطرناکه دوره ده، ځکه هېڅوک پر ځان نه پوهېږي چې ناروغ دی او مخاطب شخص هم ګومان نه کوي چې له کورونا ځپلي سره مخامخ دی. بايد ياده شي، چې ځينې خلک کېدلی شي دغه وايروس ولري، خو پخپله هېڅکله هم ناروغ نه شي او يا ډېر سطحي مريض شي، چې پر ځان به هم پوه نه شي، مګر چاپېر به يې په کورونا لړلي وي. ځېنې پوهان داسې انګېري، چې د اروپا او امريکا ۱۰ سلنه نفوس کېدی شي په کورنا مصاب شوي وي، چې دا پخپله د کورونا د خپرېدو يوه مخاطره ده.



دغه وايروس لومړی د سږمو په داخلي قشر يا ستوني کې ځای پرځای کېږي او تکثير کوي، چې بيا د ستوني له لارې برانشونو ته انتقالېږي او وروسته له دې د سږيو تل ته ورننکته کېږي. ناروغان په لومړيو کې وچ ټوخی کوي، کېدی شي سردردي او يا هم د ځان خوږ  يا هم د مفصلونو(بندونو)  دردونه له تبې (>38 ° c) سره ولري. د سينوبغل په ترڅ کې د ټټر دردونه او سا بندي هم ورته پيدا کېږي، ځينې ناروغان له ناستناستی هم يعذاب وي. په ډېر ستونزمن حالت کې يو ناروغ پرته له تنفسي ماشينه سا نه شي اخيستی او اړ دی، چې د تنفسي ماشين په مرسته ورته آکسيجن ورکړل شي.




څنګه چې ياده شوه، دغه وايروس د هوا له لارې او يا هم د ککړو لاسونو په واسطه لومړی سږمو يا ستوني ته ځان رسوي، او بيا وچې مری او په پای کې د سږيو انساجو ته يعنې الويولونو ته ځان رسوي. د هر ميکروب پر ضد بدن هڅه کوي، خپل دفاعي سيستم فعال کړي، همدا ډول د کرونا وايروس پر ضد هم په سږيو کې دفاعي سيستم فعاله کېږي، چې پايله يې اولويوليتس يا پنوموني يا د سږيو التهاب دی، چې د سږيو د پړسوب بڼه خپلوي، چې د اورريکشن يا له بريده زيات التهابي غبرګون د دې سبب کېږي، چې د سږيو اولويولونه له اوبو ډک شي، چې د سږيو او وينې د جريان تر منځ د آکسيجن تبادله خرابېږي او يا نه رامنځ ته کېږي، يعني يو ناروغ په غير مستقيم بڼه په دغه التهاب کې ډوبېږي، چې پايله يې ماغزو، زړه او د بدن نورو غړيو ته د اکسيجن نه رسېدنه ده او يو ناروغ کېدلی شي، د سابندي په ترڅ کې تلف شي.




په چين کې او يو شمېر نورو ملکونو کې څېړنو ښودلې ده، چې د سالمو انسانانو په پرتله هغه انسانان چې د شکر، د زړه او رګونو، د وينې د فشار، آستاما (نفس تنګي) يا د سږيو په نورو ناروغيو اخته وي او يا کومه سرطاني ناروغي ولري، نو د کورونا ناروغي بهير يې ستونزمن دی. د هغه اشخاصو په پرتله چې بله ناروغي و نه لري، نو د پورته يادشويو ناروغيو خلک کېدلی شي له ۵ تر ۱۰ ځله ډېر په کورونا اخته شي او د مرګ له ګواښ سره مخامخ شي.

د کورونا وايروس د خپل تکثير لپاره د يو بل موجود سلول يا حجرې ته اړتيا لري، پرته له داسې يوې حجرې نه شي کولی خپل تعداد زيات کړي. د کورونا وايروس د انسان په بدن کې د موجودو آخذو يا رېسيپترونو په مرسته سلول ته ننوځي او بيا د سلول په جينوم کې ځای نيسي او د سلول جينوم اړ باسي، چې د کورونا د (RNA) جينوم په مرسته د هغه د تکثير پروتينونه جوړ کړي او کورونا په دې بڼه د خپل جينوم رېپليکشن يا بيا جوړونه پياوړې کوي، چې په دې ډول نوي تکثير شوي وايروسونه په ټول جسم کې د وينې په بهير کې لېږدول کېږي او نوې حجرې تر بريد لاندې نيسي.

په حجره کې د ننوتلو لپاره له کورونا سره دوه اینزایمونه چې د انجیوتینزین کانوېرتینګ آینزایم ۲ ( Angiotensin Converting Enzyme ACE 2) او بل يې د ترانسممبران پروټیاز سیرین ۲ (Transmembrane Protease Serine 2 TMPRSS2) په نامه یادېږي، مرسته کوي. د کورونا وایروس له دغه (ACE 2) اینزایم یا بیولوژیکي فعالې مادې سره نښلي او د (TMPRSS2) اینزایم ورته د ننوتلو لاره پرانیزي، چې سلول ته ننوځي، چې د انسان په سلول کې د کورونا لپاره د تکثیر موقع پیدا کېږي او په دې ډول د جسم ګڼشمېر سولولونو باندې برید تر سره کېږي.




باید یادونه وشي، چې دغه اینزایمونه او د هغوی آخذې زیاتره په سږیو او د زړه په عضلاتو کې موجود دي، ځکه نو خلک زیاتره د زړه او سږیو په وایروسي التهابي ناروغیو اخته کېږي، چې د زړه بې سېکتیا او سینوبغل را منځ ته کوي، چې د انسان د وژنې سبب ګرځي. دغه حالت په هغو ناروغانو کې چې له مخکې د زړه، د وینې فشار او سږیو ناروغي لري، ډېر ستونزمن او د مرګ له ګواښ سره غبرګ وي.

هغه ناروغان چې د وینې فشار لري، نو د رینین انجیو تینزین الدوسترون سیستم (Renin–Angiotensin–Aldosterone System RAAS) په اړوند د درملو د دریو بېلابېلو ګروپونو په کارولو سره تدواي کېږي، چې دغه د فشار درمل د انجیوتینزین ۲ بلوکر یا اینهیبیټورونو (ACE Inhibitor)، د رینین بلوکر (Renin Inhebitor) او همدا ډول د انجیوتینزین مستقیم انتوجینیست یا اینهیبیټور (AT Inhibitor) په درملیز ډلې پورې اړه لري. د کورونا غمیزې په ترځ کې، د فشار د ناروغي په درملنه کې له دغه درملونو څخه زیاتره د (ACE Inhibitor) ډلې د پام وړه ده.

د دغه (ACE Inhibitor) ډلې درملونه لکه ( Ramepril, Enalapril,) د (ACE) آخذې یا رېسیپټورونه بندوي، چې د استقلاب په نتیجه کې یې د وینې فشار ټیټېږي. د دغه درمل د اغېز په ترځ کې همدا ډول د (ACE2) د آخذو د ایکسپرېشن یا خپرېدنې ګواښ شته، چې دغه آخذې زیاتره په سږیو او د زړه په انساجو کې دي. همدا ډول د فشار درمل یعنې د ( ACE Inhibitor) په مرسته درملنه کېدلی شي په سلول کې د (Bardykinin) په نامه یوه ماده هم آزاده کړي، چې پر زړه، رګونو او سږیو خپل اغېز پرېښودلی شي. د دغه میکانیزم پر بنسټ کېدلی شي، په سږیو کې د کورونا وایروس د ژر خپرېدنې سبب شي، ځکه د دغه آخذو په مرسته دغه وایروس کولی شي په آسانۍ د سږیو سلولونو ته ننوځي او د تکثیر زمینه ځان ته جوړه کړي. مګر په امریکا، جرمني او یو شمېر نورو ملکونو کې څېړنو ښودلې، چې د کورونا وایروس په خپرېدنه کې دغه درمل کوم ځانګړی رول نه لوبوي، ځکه د (ACE2) د آخذو کنټرول د (RAAS) سیستم تر سره کوي، نو د فشار په درملنه کې د (ACE2) د خپرېدنې ګواښ نشته او د زړه ډېرې ډاکټران د دې سپارښت کوي، چې د (ACE Inhibitor) په مرسته د فشار تداوي باید و نه درول شي او په معمولي بڼه دغه تداوي ته دوام ورکړل شي.

د کورونا وایروس درملنه ستونزمنه ده، ځکه کوم خاص درمل د دغه وایروس پر ضد موجود نه دی. په طبابت کې د وایروسونو پر ضد بېلابېل درمل کارول کېږي، چې زیاتره يې په لاندې ګروپونو پورې اړه لري



**1. Neuraminidase inhibitors**

- ☐ Oseltamivir
- ☐ Darunavir
- ☐ Umifenovir

**2. Nucleosid analogue**

- ☐ Ribavirin
- ☐ Remdesivir
- ☐ Aciclovir
- ☐ Penciclovir

**3. Protease inhibitors (antiretroviral activity)**

- ☐ Lopinavir or Ritonvir

د یادونې وړ ده، چې علمي څېړنو په بېلابېلو ملکونو کې دا ښودلې ده، چې دغه درملونه په عمومي توګه د کورونا وایروس درملنه نه شي تر سره کولی. په یو شمېر لیکنو کې د تصادفي واقعاتو کلینیکي انځور لیکل شوی دی، مګر په ګروپي څېړنو کې د دغو درملو ګټورتوب نه دی ثابت شوی. طبیعي خبره ده، چې په ستونزمن حالت کې چې د ژوند او مرګ ګواښ وي، نو له دغو درملو څخه استفاده کېږي، ځکه ډوب شوی هم ستېي او هم ځګ ته لاس اچوي!

د کورونا په درملنه کې همدا ډول د ملاریا ضد درمل (Chloriquin) هم کارول شوی دی. د وروستیو معلوماتو پر بنسټ دغه درمل د (ACE 2) د وروستني ګلیکوسیلاسیون (Glycosylation) د تعامل مخنیوی کوي. همدا ډول د کلوروکین یو مشتق یا دېریوات (Hydroxychloroquin) د سلولو په اینډوسوم کې د ($P^H$) کچه لوړوي، چې اینډوسوم ته د وایروسونو د ننوتلو خنډ کېږي، ځینې څېړونکي داسې انګېرنې کوي، چې دغه درمل د کورونا په تداوي کې ګټور ثابتېږي، خو بیا هم داسې کومې معتبرې موسسې د ملاریا ضد درمل د کورونا په درملنه کې نه دی ثابت کړی او نن هم د دغه درمل ګټورتیا روغتیایي عالمان نه مني، خو دغه درمل خپل جانبي عوارض لکه د سږیو او بډوډو او زړه التهاب ، لري، چې باید ورته پام وشي او په ګڼشمېر کورونا ځپلیو ملکونو کې د ناروغانو د زړه ناخاپي دربدنه دغه درمل ته منصوبوي.


د تداوي بله برخه د واکسینونو ده. مخکې یاده شوه، چې د کورونا وایروس په جوړښت کې ګڼشمېر پروتینونه شته چې کېدی شي، د یو نوي واکسین په جوړولو کې مرسته وکړي، خو همدا ډول د وایروس (RNA) هم د واکسین د جوړولو لپاره یو بل د نښې ټکی دی، خو دلته د روغتیایي اخلاقو او دسپلین سره سم باید یو پراخ څېړنیز بهیر پیل شي. بیا هم په آلمان، امریکا، انګلستان او چین کې د واکسین آزموینې پر انسانانو تر سره شوې دي، چې پایله یې لیا نا څرګنده ده، خو ځینې ګنګوسې شته، چې یو شمېر ملکونو کې د کورنا ضد واکسین جوړ شوی دی او د پراخ تطبیق انتظار باسي.

د انسان جسم د هر وایروس سره د مبارزې په ترځ کې د (Interferon) په نامه یوه ماده په سولولونو (لیمفاسیتونو) کې جوړوي، چې د وایروس د له منځه وړولو سبب ګرځي. همدا ډول د وایروس پر ضد د ایمون سیستم په مرسته د وایروس انټي باډي هم جوړېږي، چې له وایروس سره نښلي، په نښه یې له منځه وړي او یا وایروس د مکروفاژ خولې ته ورکوي او له منځه وړل کېږي. د انترفېرون ماده په سینتیتیک بڼه هم جوړه شوې ده، چې د بېلابېلو وایروسونو په درمل کې کارول کېږي، چې له ناروغي مخکې ډېر ګټور وي، د ناروغي په پیل کې هم ګټه لري، مګر وروسته له اینکوبېشنه یې اغېز نور هم کمېږي، حتی هېڅ کېږي.

د کورونا وایروس بهیر ښودلې ده، چې ۲۵-۳۰ سلنه او حتی په ځینو سیمو کې تر ۸۰ سلنه خلک په طبیعي شکل جوړېږي، نو دغه حالت دیته نغوته کوي، چې د انسان جسم د کورونا پر ضد د عافیت سیستم پیاوړی کوي او له کورونا روغ رمټ کېږي. په هالنډ کې له کورونا روغ شویو خلکو د وینې پلازما اخیستل شوې او نورو د کورونا ناروغانو ته تزریق شوې ده، چې د تدواي نتیجه ښه بلل شوې ده. دغه پېښه هم دې ته ښودنه کوي، چې یو شمېر انسانان له کورونا سره خپل ایموني سیستم پیاوړی کوي او د کورونا وایروس له منځه وړي.

آیا د کورونا وایروس دومره مرګونی دی، چې کېدای شي د بشر نسل ته ستر خطر پېښ کړي او یا کنټرول نه شي. په دې برخه کې باید یاده شي، چې له مصابو خلکو په ټولیزه توګه ۳ سلنه مري. مګر په هېڅ هېواد کې ټول خلک نه دي ټست شوي، چې آیا کورونا یې تېره کړې او که نه، خو داسې انګېرنې شته، چې وایي په آلمان کې تر ۱۰ ٪ ټولنه په کورونا مصاب شوې ده، مګر راجستر شوي ناروغان ۱۷۰ـ۱۸۰ زره دي، ځکه ډېر خلک چې ټوخی او یا تبه ولري، نو کور کې پاتې کېږي او له خپل ډاکټر سره تلیفوني مشوره کوي، ځکه دغه خلک هېڅکله هم د کورونا په اړوند نه آزمویل کېږي، نو ریښتنې شمېره د مصابو خلکو کېدی شي ډېره لوړه وي.

په وروستیو دوو لسیزو کې موږ له ګڼشمېر ناروغیو سره مخامخ شوي یو، نو په نړیواله کچه څېړنو ښودلې ده، چې تر ټولو ډېره مړینه د افریقا ایبولا (Ebola) تر ۵۰ سلنه، بیا د عربو مېرس (MERS) تر ۳۵ سلنه، وړسپي چیچک (Smallpox) تر ۳۰ سلنه، بیا د سارس (SARS) ناروغي تر ۱۰ سلنه، رامنځ ته کړې ده، چې له کورنا (Covid 19) څخه ۳-۴ سلنه ناروغان مري، نو داسې ښکاري، چې تر کورونا خطرناکو ویروسونو په بشر تیری کړی، بشر قرباني ورکړې، مګر ترې روغ وتلی.





د کورونا وایروس د مخنیوي لپاره د دې سپارښت شوی دی، چې خلک باید تر ۲ مترو پورې له یو او بل واټن ولري. دغه فاصلې ته باید په بس، ریل او موټر کې پام وشي. ډېر داسې وایي، چې دستکش او ماسکونه هم باید ولري، مګر تر ټولو ګټور بیا هم په کورونو کې کرنټین یعني کور کې پاتې کېدل

وو، نو د اروپا يو شمېر ملکونو کې ډېر خلک په کورونو کې پاتې شول او د وايروس د پراخې خپرېدنې مخنيوی وشو. بيا هم په ځينو ملکونو کې د جموجوش د مخنيوي سلسله ډېره ستونزمنه وه او ده. لکه په افغانستان کې چې هراتی ملا مجيب الرحمن انصاري وايي: کورونا برای کفار يک غصب است، اما برای ما مسلمانان ها يک رحمت است! در امريکا ده ها هزار مرده اما در افغانستان تا به حال ۴۰ يا پنجا نفر فوت کرده! او ټول د جماعت لمانځه او ديني غونډو ته تشويقوي. څنګه چې ټول پوهېږي، چې د ځان ساتل فرض دی او په جماعت لمونځ بيا موکد سنت دی، نو آيا موږ د ملايانو په خوله وکړو او ځان له کورنا سره مخامخ کړو، نو دغه بيا همغه با شاخ گو کونه جنګاندن معنی ورکوي او که له خپل سليم عقله د دين په رڼا کې کار واخلو او ځان وژغورو! وروسته له ثوري غوبلونو به خلکو ويل، چې شرايط انقلابي دي، هوښيار هغه دی، چې سر وساتي! نو اوس هم د کورونا انقلاب دی، نو سر وساتي!










په اروپا کې ۲ ميليونه او په امريکا کې هم تقريبا ۲ ميليونه خلک په کورونا مصاب شوي دي، او تعداد يې ورځ تر بلې زياتېږي. په جرمني کې بيا د مصابو خلکو شميرتر اوسه تر ۲ لکو و نه رسېدلو، چې علتونه يې کېدلی شي، د جرمني د خلکو عمومي روغتيا وي او جرمنان نصبتا با دسپلينه دي، چې د کرنتين په موده کې په ټوليزه توګه کورونو کې پاتې شول، مګر په طبي برخه کې يې کوم شهکار نه دی کړی، ځکه په روغتونو کې د کورونا ناروغان چې مړه کېدل مړه شوي دي، چې پاتې کېدل پاتې شوي دي! په اروپا کې بله ګټه دا وه، چې خلکو لومړی له خپل کورني ډاکټر سره تليفوني مشوره کوله چې بيا ورته مناسبه سپارښتنه کېدله. دغه دريځ په معاينه خانو کې د خلکو د ګڼوګوڼې د مخنيوي سبب شوه او خلک ډېر مصاب نه شول.

داچې ولې په امريکا او اروپا کې د کورونا وايروس ډېر ژر خپور شو او ډېر خلک يې قرباني شول، د طبي سيستم جوړښت تر څنګ يې ټولنيز ژوند هم خپل رول درلودلو. د اروپا او امريکا خلکو په لومړيو کې کورونا جدي و نه نيوله، ځکه نو له دا ډول ناورين سره مخامخ شول. د اروپا او امريکا په لويو ښارونو کې د نفوس تراکم، د صنعتي ژوند ګڼه ګوڼه، د ښارونو، کليو تر منځ د پخو سړکونو غزېدنه، چې يوازې په آلمان کې د ورځې تر ۶۰-۷۰ ميليونه موټرونه په سړکونو ځغلي، همدا ډول د ريل ګاډي ترانسپورت او د هوايي ليکو د الوتکو ګڼه ګوڼه، هغه فکتورونه دي، چې د ناروغي په ځغلنده خپرېدنه کې اساسي رول درلودلی شي.

بله موضوع د وايروس لپاره د چاپېر د تودوښې، رطوبت او شمالونو وضعيت هم ډېر مهم دي، ځکه دا وايروس د اروپا په ايټاليا، اسپانيا، جرمني، هالند او بلجيم کې ژر خپور شو، مګر په شرقي اروپا او کم نفوسه سکانډنياوي ملکونو لکه ډنمارک، سويډن، ناروې کې يې خپرېدا کاوړې وه، چې د کورونا لپاره پکې د خپرېدو امکانات کم ول، مګر په ايران کې د افغانستان په پرتله د کورونا مصاب خلک او مرګو مير ډېر دی، ځکه د خلکو ترانسپوټي امکانات پکې ډېر دي، په ځينو ښارونو کې د نفوس زياتوالی او بې ځايه مذهبي جماعتونه هم د کورونا په خوربدو کې غوره ګڼل کېدلی شي.

په چین، شمالي کوریا او یو شمېر نورو ملکونو کې لیا د کمونیستي ډیکتاتوري ذهنیت موجود دی، ځکه د کرنټین له اعلان سره سم تر ۹۰ سلنه خلک په کورونو کې پاتې شول، چې د کورونا د ځغلنده خپرېدنې مخنیوی پکې وشو. د چین په اړه ویل کېږي، چې د ناروغانو او مړیو تعداد یې پټ ساتلی، ځکه د چین احصاییه د منلو وړ نه ده. د کرنټین لپاره په شمالي کوریا کې ویل کېږي، چې یو نفر یې په کوڅه کې چانواري کړ، نو نوورو ته عبرت شو! چې له کیم جون هوڼ سره ټوکې نه کېږي، نور بیا وایي، چې په ځینو ښارونو کې یې د باغ وحش زمریان خوشې کړي دي، چې خلک یې له ویرې له کورونو نه راوځي! دا هم یوه د کرنټین سوسیالیستي توګه ده، خو کیم جون هوڼ بیا دا ځو اونۍ له عام معظره ورک وو.

په آریانا تلویزیوني شبکه کې ښاغلی همایون افغان هر چا ته دربدلی وي او د ماسک او دستکش په اړه یې ګواښي، چې ماسک نه لري او یا هم ولې دستکش نه لري. هغه ربړي دستکشونه چې خلک یې په لاس کوي، ځو نقصونه لري. لومړی خو دا چې له دغو دستکشونو د کورونا وایروس په آسانۍ تېربدلی شي او بیا د لاس په پوستکي کې خوندي کېږي. دویم وروسته له ځو دقیقو په دستکشونو کې لاسونه خولې کېږي او د نورو میکروبونو لپاره د ودې او تکثیر ښه شرایط پکې جوړېږي. دغه دستکش په روغتونونو کې د یوې لنډې مودې لپاره کارول کېږي او بیا ایسته غورځول کېږي، نو زما په ګومان تر دستکش چې لاسونه ژر ژر په اوبو او صابون پرېمینځی نو تاسو ته به ګټور وي.

ماسکونه بېلابېلې بڼې لري، خو معمولي ماسکونه د ۱۵ دقیقو لپاره د کارولو وړ وي، خو بیا د خولې اوبه، د تنفس هوا او له سږمو څخه ګرمه او د بهر سره هوا په ماسکونو کې داسې یو ماحول جوړوي، چې د کورونا وایروس تر څنګ په سلهاوو نورو وآیروسونو او باکټریاوو ته د رشد او تکثیر زمینه برابروي، نو ماسک باید په هرو شلو دقیقو کې نوی شي، چې د دومره ماسکونو اخیستل او کارول یو نا ممکن کار دی. د دغو ستونزو تر څنګ له ماسکه سږیو ته کمه هوا او لږ آکسیجن تېرېږي، نو د کمې هوا یا ناپاکې هوا او کم آکسیجن چاپېر د سږیو لپاره خطرناک برېښي او د دې تر څنګ د سا اېستلو په ترځ کې د خولې او ماسک تر منځ د (CO2) غازونه هم زیاتېږي، چې یو شمېر خلک که د نفستنګي، برانشیت او یا هم ایمفیزما ولري، نو له دغو خلکو سره په سږیو او بیا په وینه کې د (CO2) د ټولېدو (Commulation) په ترځ کې د بې سدېدو مخاطره هم موجوده ده، چې دې حالت ته د (CO2 Narcosis) هم ویل کېږي، نودې ته باید پام وشي.

په کور کې له ټوټې یا ټوکر د ځو لایه جوړ شوي ماسکونه بیا ښه دي، ځکه دغه ماسکونه کولی شی، په جوش اوبو کې پرېمینځی، اوتو یې کړی او بیا یې وکاروی، خو د ورځې باید ځو دانې داسې ماسکونه درسره وي، که نه نو د ماسک او خولې په منځ کې د هوا د آیروزولېشن یعنې د خولې توده او د چاپېر سره هوا سره ګډېږي، د رطوبت نمجنه فضا رامنځ ته کوي او له دغه رطوبت سره ماسکونه هم نمجن کېږي او حتی لمدېږي، نو د میکروبونو لپاره د ودې ښه چاپېر رامنځ ته کېږي.

د پرنجیدو او یا ټوخیدو په ترځ کې د خولې څګونه او سا د ۱۵۰ کیلومتر په یو ساعت کې په سرعت سره چاپېر هوا ته شنل کېږي او تر دوو مترو لرې خپرېږي، مګر که ماسک اچول شوی وي، دغه فاصله تر ۲۰ – ۳۰ سانتي متره رالنډېږي، نو د ماسک کارولو ګټه دا ده، چې له تاسو څخه نورو مخاطبو خلکو ته ستاسو د خولې دهوا د مخامخ خپرېدنې مخنیوی کوي او بس! چېرې چې خلک نه وي، نو په آزاده هوا کې د ماسک آغوستل اړین نه دي، مګر په ببروبار، جموجوش، دوکان یا مغازه کې یې باید وکاروی.

دغه د ماسکونو اخوډب هم عجیبه دی، لکه د سر پوړنی یا ټکری، چې په رنګونو او ګلونو سینګار وي، نو خلکو ماسکونو ته هم د مود په بڼه وکتل شول، چې ډول ډول شکلونه یې ورکړل او رنګارنګې ټوټې یې ورته وکارولې. مسلمانانو خو لیا دا دي څو سوه کاله کېږي، چې د حجاب تر نامه لاندې یې، ډول ډول پوزبندونه، وربزونه، نقابونه، چادریګانې او ګڼشمېر نور بلاوبتر او نوښتونه یې رامنځ ته کړي دي، چې یو شمېر ځانونه بیا د شال تر څنګ په چادرنماز کې هم پېچلی وي، خو په زړه پورې دا ده، چې د کفارو په ملکونو کې په وروستیو دوو لسیزو کې د حجاب پر ضد ډېرې ډلې په مورچل کې کېناستې، په فرانسه، بلجیم، هالنډ او جرمني کې حتی په پارلمانانو کې پرېکړې وشوې، چې د مسلمانانو نقاب او بورقې ته د پای ټکی کېږدي، ځکه تر بورقې لاندې تروریستان پټېږي او په چادري کې بیا داعشان ننوځي!

راځی چې وګورو کورنا یا الهي پرښتې څه وکړل! لومړی خو کله چې د کورونا د برید انقلاب پیل شو، نو نر او ښځه یې په ی، ردیف کې راوستل او دې ته یې اړ ایستل چې په کورونو کې کېني، یعنې نر، ښځه، مسلمان، هندو، عیسوي، یهود او بودایي یې ټول په خپلو جونګړو کې کوټه قلفي کړل. په خپله مبارزه کې یې امیر او غریب ته په یوه سترګه وکتل! او د مخ پټولو یا حجاب یې داسې یو حالت رامنځ ته کړ، چې په ټوله نړۍ کې یې نر او ښځه دې ته اړ کړل، چې ماسکونه واغوندي، دسکشونه ولري او په همدغه اروپایي ملکونو کې یې قوانین وایستل چې دوه تنه څنګ تر څنګ نه شي کیناستلی! ماسکونه جبري دي، چې حتی تر ۱۵۰ آیرو یې جریمه هم پرې ایښې ده! نو دغه کورونا الهي قوانین نه پلي کوي، نو څه کوي! خو مسلمان نر هم کورونا ته ټینګه نه کړه، لکه ښځه غوندې یې ماسک خولې ته ونیولو، نو اوس به ښځینه ماشالله هم پرې لیکي! ځکه مساوات رامنځ ته شو.

بیا هم له کورونا څخه د ژغورنې لپاره تر ټولو ښه وقایه نظافت، له نورو خلکو واټن نیول او له جموجوشه ډه ډه کول دي. هڅه وکړی، چې له کوره بهر له چا سره په لاس یا غېږو روغبړ و نه کړی، لکه د هندوستان خلک په نمستې سترېمشې وکړی او یا په لوړ غږ سلام واچوی! خو ځینې بیا وایي، چې څنګل، پښې او یا کونټې سره وجنګوی! مګر د لاسونو په مینځلو کې غفلت مه کوی. خوله او ستونی مو په پاکو اوبو له لږ چیکې مالګې سره غرغره کړی. هر لمانځه ته اودس په پاکو اوبو تازه کړی، نو د کورونا په مخنیوي کې نظافت او له جماعتونو یا ګڼوګوڼو ځان ساتل، تر هر څه ډېر مهم او اغېزناک دي.




ډېر خلک به په دې فکر کې وي، چې ښه او ډېر خوراک وکړي، نو له کورونا به یې ځان ژغورلی وي. ښه خوراک یا مناسب خوراک حتمي دي، مګر نسپړسي او ګوشنګي مو بیا بربادوي. د انسان بدن تر ۷۰ سلنه له اوبو جوړ دی، نو د ورځې تر ۳ لیټره مایع (اوبه، چی، جوس، شودې، شکنه یا ښوروا) او د دې تر څنګ ویټامین، پروټین او غوړو ته هم اړتیا لری. هر څه چې په کور کې لری په مناسبه بڼه یې وخوری، ګېډه ډېره مه ډکوی، ځکه د معدې تیزاب کېدلی شي د مرۍ له لارې خولې ته راپورته شي او د ستوني نه وچې مرۍ او د سږیو نلکیو ته وبهېږي، چې د سږیو او برانشونو د تخریشېدلو یا التهابي کېدلو سبب کېدلی شي، چې دا پخپله د کورونا پر ویروس د آخته کېدلو ګواښ رامنځ ته کوي.

خوب د جسم په مضبوتیا کې ډېر اړین دی. په کمخوبي کې د بدن دفاعي سیستمونه ډېر کاوړي وي، ځکه نو هر انسان باید هڅه وکړي، چې په څلورویشتو ساعتونو کې خپل اته ساعته خوب پوره کړي. د دې لپاره چې سم، ښه او درونډ خوب وکړی، نو

باید ماښامنې ډېر ناوقته ونه خوری، هڅه وکړي ډوډۍ کمه وخوری، چې مخکې له خوبه مو معده نیمه خالي وي، چې هم سم خوب وکړی او هم مو د معدې هضم سم وي. بل دا چې د معدې د تیزابو او یا عصارې له ریفلوکسه یا مرۍ ته د معدې د موادو (عصارې) بیرته ستنېدلو، به مو ځان ساتلی وي، چې د معدې عصاره کېدلی شي، د پرېوتو په ترڅ کې د تنفسي سیستم نلکیو ته وروبهېږي او تنفسي سیستم ته د خوړو د ټوټو د ننوتلو ګواښ هم رامنځ ته کړي، نو په تخریش شویو برانشونو کې د کورونا ننوتل او په سږیو کې یې خپرېدنه نوره هم آسانېږي.

کورونا له روژې سره په یو موسوم کې رامنځ ته شوې او په افغانستان کې د خپرېدو په ترڅ کې ده. هغه خلک چې د ګوردو (بډوډو)، زړه، شکر او فشار ناروغي لري، نو هڅه دې وکړي، چې بدن یې کم آبه نه شي، نو سپارښتنه ورته دا ده، چې روژه ونه نیسي. د روژې په ترڅ کې د بدن مایعات کمېږي، چې د ستوني وچوالی هم ورسره مل وي، نو په وچه خوله او وچ ستوني کې د کورونا وایروس




په آسانۍ کولی شي ونښلي، ژر تکثیر وکړي او سږي ونیسي، چې له سینوبغل (پنومونیا) سره د انسان د مرګ سبب شي، نو هغه خلک چې ډنګر وي او هغه چې بدن یې دمایعاتو له نیمګړتیا سره مخامخ وي، باید د روژې له نیولو ډه ډه وکړي، نور نو د ملایانو کار دی، چې څه ډول یې شاربي.

# ولې کورونا را منځ ته شوه

د بشر په تاریخ کې ګڼشمېر وبا ګانې تېرې شوې دي، چې زما په ګومان ځینې ناروغی د بشر له پیدایښت سره تړلې دي او د انسان د مقاومت لپاره انسانان کله کله په والګي یا زکام آخته کېږي، ځینې بیا داسې ناروغۍ دي، چې په هغې کې بیا انسان پخپله ملامت دی، نو په وروستۍ پېړۍ کې د بشر نفوس له ۲ میلیاردو نه تر ۸ میلیارده پورې رسېدلی دی، چې د نفوس درییمه برخه په دوو هېوادونو یعنې هندوستان او چین کې ژوند کوي او ګڼشمېر نور بیا په وروسته پاتې آسیا او افریقا کې اوسېږي. د اروپا او امریکا وګړي هم د نړۍ د نفوس درییمه برخه جوړوي، اسلامي نړې، چې زیاتره یې وروسته پاتې ملکونه دي، تر ۲ میلیارده انسانان پکې خوندي دي.

انسان له خپل چاپېره وتلی دی، له خپل لمخې یې پښې ایستلې دي او د حیواناتو له حریمه هم ورتېر شوی دی. انسانانو په حیواناتو د هغوی د ژوند چاپېر تنګ کړی دی، نن سبا ډېر وحشي حیوانات له خپلو سیمو څخه ښارونو ته را کډه شوي دي. په ځینو سیمو کې د انسانانو او حیواناتو په منځ کې د بېلتون برید یا سرحد نشته. یو شمېر خلک حیواناتو ته سجده کوي او نور بیا داسې حشرات، خزنده او درنده حیوانات په کورونو کې ساتي، چې د ډول ډول میکروبونو د خپرېدو زمینه یې برابره کړې

ده، د وحشي میکروبي زېرمو سره هم انسانان په خپل چاپېر کې مخامخ شوی دی. سپی خو اصحاب کف دی او پشې خو د کور کرشمه ده.

په هندوستان کې موږک، بیزو، شادي او نور حیوانات د هر کور په گاونډ کې دي. د موږکانو او شادیانو مندرونه لري، چې عبادتگاوې یې ترې جوړې کړې دي، همغه خبره هندو سترې خدای ناراضه! په چېن کې خو حالت داسې دی، چې هر څه خوځېږي، نو هرو مرو به په شوق خوړل کېږي. په عربو کې بیا له اوښ سره معاشرتونه کوي، د اوښ د شودو، غوښې تر څنګ د اوښ میتیازې هم څښي، چې خوله یې د اوښې ادرارځې ته نیولی وي او تودې تودې بولې یې غوړپوي.

د خاصو حیواناتو د غوښې خوړل بیا د بشر ژوند له یو بل ګواښ سره مخامخ کړی دی. د عربانو د خوړو خوندوره غوښه بیا د تمساح، سمسرې، چلپاسې، منګرې او لړکو غوښه ده او په ډېر شوق یې خوري. له چینیانو او نورو خپلوانو یې پر ځمکه نه



سپی پاتې شو او نه پشی، تر ځمکې لاندې یې چومجې تول وخوړل او په هوا کې یې نه مرغه پرېښود، نه بمبیرک او نه آسمانځکی، همغه خبره هر څه چې خوځېږي باید وخوړل شي. افریقایان بیا د بیزو تر څنګ د ژوندي انسان ماغزه هم په شوق خوري.




د شلمې پېړی په پیل کې د ۱۹۰۰ میلادي کلونو په ترڅ کې (Sir William Osler) د لومړي ځل لپاره د (Zoonotic) اصطلاح د میکروبي یعنې باکټریوي او وایروسي ناروغیو په رامنځ ته کېدلو کې وکاروله، چې هغو ناروغیو ته یې نغوته وکړه، چې له حیواناتو کېدلی شي انسانانو ته انتقال شي او انسانان پرې مبتلا او ناروغ شي. په طبیعت کې هر مخلوق ته ځانګړی چاپېر رامنځ ته شوی، زمری او پړانګ په ځنګله کې وي، مرغان بیا له یوې سیمې بلې ته الوزي. موږک بیا په خپلو غارونو کې خوندي وي او آسمان ځځکی بیا د غرونو په تیارو مغارو کې ځړېدلی وي، خو دا انسان یا اشرفالمخلوقات دی، چې د نړۍ ټول طبیعي ځنګلونه یې ووهل او د آمازون سیمه یې پکه کړه، چې په افغانستان کې هم هره ونه د سوخت او فروش ده! نو هم مو خپل چاپېر برباد کړی او هم مو د حیواناتو ژوند تریخ کړی دی!

اینفلووینزا (Influenza)، سارس (SARS Severe acute respiratory syndrome)، مېرس ( MERS Middel East respiratory Syndrome)، اېچ آی وي یا اېډس ناروغي (HIV Human immunodeficiency virus)، اېبولا (Ebola) او کورونا یا (Covid 19) هغه زوونوتیک یا حیواني میکروبي (وایروسي) ناروغۍ دي، چې له حیواناتو انسانانو ته ورانتقال شوي

دي او انسانان يې ناروغ کړي دي، يعنې د دې ګواښ ليا هم شته، چې په راتلونکې کې هم داسې يو مصيبت رامنځ ته شي، چې د بشر ژوند وګواښي.

په چين کې د وحشي حيواناتو له خوړلو سره د دې ګواښ هم شته، چې نوي وايروسونه له وحشي حيواناتو اهلي حيواناتو او بيا انسان ته ورانتقال شي. تر ٧١ سلنه نوې ناروغۍ په وروستۍ پېړۍ کې د (Zoonotic) له سببه رامنځ ته شوې دي او بشر به په راتلونکې کې هم له دا ډول وايروسي او باکټرياوي ګواښونو سره مخامخ وي. بله ستونزه دا ده، چې د وهان د وايروسونو څېړنيز انستيتوت هم د وحشي حيواناتو د بازار تر څنګ دی، چې کېدی شي په دغه انستيتوت کې له وحشي وايروسونو سره تجربې د نويو آفتونو عامل وګرځي، په ګڼشمېر څېړنيزو انستيتوتونو کې د سينتېتيک وايروسونه جوړونه او يا د طبيعي وايروس موتواسيون د نظامي موخو لپاره د بشر د تباه کېدلو لپاره بله پلمه ده!

د ١٩٦٠ ميلادي کلونو په بهير کې په يو شمېرملکونو کې تولیزه لوږه رامنځ ته شوه، چې په چين کې هم د لوږې ګواښ خپل اوج ته رسېدلی وو، نو په همغه کلونو کې د وحشي حيواناتو د خرڅلاو او د غوښې د خوړلو بهير پياوړی شو، نو داسې د غوښې ځانګړي بازارونه رامنځ ته شول، چې له ګيډلې نيولې، تر سمسرې او کږې پورې په يو قفس کې واچول شول، چې اوس ويل کېږي، په چين کې هر څه چې خوځېږي، نو خوړل کېږي! د دغه وحشي حيواناتو د کاروبار لوی بازار په وهان کې دی، چې هر کله يوه پېښه ترې رامنځ ته کېږي.




د (Zoonotic) ناروغيو په رامنځ ته کولو کې انسانان ډېر ګرم دي، ځکه نو په ټوله نړۍ کې بايد خلک هڅه وکړي، چې د حيواناتو له چاپېره لرې شي، د وحشي حيواناتو ماحول په طبيعي بڼه بيرته پرېږدي. د نړۍ په زرغونولو کې په پراخه پيمانه برخه واخلي! له حيواناتو سره دې داسې معاشرت نه کوي، چې د ميکروبونو د خپرېدلو ګواښ ورسره رامنځ ته شي.

د انفلوانزا يا والګي په رامنځ ته کېدلو کې د هيليو (مرغاويو) يا نورو مرغانو براعظمي پروازونه اساسي رول لري. کله چې يوه هيلۍ يا قاز، يا لګلګ او يا دې ته ورته مرغان له يوې سيمې بلې ته الوزي، نو په مېشتو سيمو کې خانګي چرګانو او يا نورو اهلي حيواناتو ته د اينفلونزا وايروسونه لېږدوي، چې انسان بيا له خپلو خانګي چرګانو په انفلونزا آخته کېږي، چې يوازې په جرمني کې د کال په ترڅ کې تر ٢٠٠٠٠ انسانان له دغه انفلونزا څخه مړه کېږي، ځکه نو د مني، ژمي او وړې په بهير کې هغه شمېر خلک چې د والګي له مخاطرې سره مخامخ وي، نو انفلونزا واکسين ورکول کېږي، چې د دغه وايروسي له سخت بريد څخه وژغورل شي.

د کورونا وايروس هم په طبيعي بڼه په يو شمېر وحشي حيواناتو کې موجود وي. دغه حيواناتو ته د ريزېروار (زيرميېز) حيوانات ويل کېږي، يعنې د دغو حيواناتو په بدن کې ګڼشمېر باکترياوې او يا وايروسونه په طبيعي بڼه ژوند کوي، چې په نورو مخلوقاتو کې د خپلې خپرېدنې لپاره بايد تغيرشکل وکړي او لومړی په اهلي حيواناتو کې ځای پر ځای کېږي، تکثير کوي او له اړتياسره سم په خپلو پروتينونو او سلول کې داسې تغيرات رامنځ ته کوي، چې د انسان بدن هم تر بريد لاندې راولي، چې کورونا هم له آسمان څڅکي يا شاپرک چرمي څخه کوم اهلي حيوان لکه سپی، اوښ، خر او چرګ ته ورانتقالشوی او بيا انسان ته ورلېږدول شوی دی، چې د کورونا نننۍ غميزه يې پايله ده.

د کورنا د غمیزې په ترڅ کې په یو شمېر ملکونو کې خلک ډېر مړه شول او ګنشمېر نورو ملکونو کې یې خپرېدنه بیا کاوړې وه. داسې ویل کېږي، چې د امریکا تورپوستي په دغه ناروغۍ ډېر آخته شوي دي او ډېر یې مړه شوي دي. بله موضوع دا یادېږي، چې زیاتره زاړه خلک او یا هغه خلک چې د سږیو، زړه، پښتورږو، بډوډو او یا فشار یا سرطان ناروغۍ ولري، نو له دغه وایروسه مري. د کورنا له وایروسه همدا ډول واړه ماشومان، تنکي ځوانان او یو شمېر جسمي غښتلي خلک هم له دغه آفته مړه شوي دي. د جرمنۍ په یو روغتون کې پلار، مور او زوی یو ځای بستر ول، له بده مرغه زوی مړ شو، خو پلار او مور وروسته له روغېدو یو پالنوتون ته انتقال شول. داسې شواهد شته، چې د کورنا وهلیو ناروغانو منځ کې وینه نسبت نورو ناروغیو ته ډېره ګاټه کېږي او زیاتره د زړه، سږیو او ماغزو له سکتې مري، نو د کورونا په تداوي کې باید د وینې د رقیقېدو درمل ته پاملرنه وشي. هغه ناروغان چې تنفسي سیستم ته اړ دي، په تداوي کې یې د ګلوکوکورتیکوید درملونو لکه هایدروکورتېزون یا پریدنیزالون کمه کچه یا مقدار اړین دي، مګر د دغه درمل ډېر تزریقول د جسم ایمونی سیستم کاوړی کوي او د ناروغۍ د تداوم او پیاوړي کېدو سبب کېدی شي.



وایي په ځنګله کې قانون زور بالای زور دی! او هغه حیوان ژوندی پاتې کېږي، چې قوي او له خپل چاپېر سره په آساني عادت وکړي، نو د کورونا پېښو هم د «پیاوړي عادت کېږي او پاتې کېږي (Survival of the fittest) تیوري» ته د خلکو پام اړولی دی، ځکه هغه خلک کورونا وژني، چې زاړه، ناروغ او خوار وي! یا داسې خلک وي چې د جینیتیکي له اړخه د ژوند له اړودوړو سره نه شي کولی ځان عادي کړي! چې کورونا هم دغه خلک ژر تر برید لاندې نیسي، نو دا یوه الهي پرېښته نه ده څه ده! خو دا بدمرغه پرېښته هم لکه د افغانستان نامرده مشران، زور یې په بې وزلو او غریبانو ډېر بر دی! ځکه امیران که په کورونا آخته کېږي، نو د تداوي او ژغورنې ښه میکانیزمونه هم لري! ښه ویل شوي، چې قانون د امیرانو لپاره نه بلکې د غریبانو لپاره جوړ شوی دی! نو د الهي دغه ټکې هم د غریبانو ګریوان نیولی دی! چې یايې مخامخ ځپې او یا یې له لوږې ستوي!

## پایله

د نړۍ خلک په طبیعت کې د خپلو بې ځایه مداخلو په ترڅ کې داسې یو ماحول رامنځ ته کړی، چې د بشر نسل هره شیبه د ورکېدو له ګواښ سره مخامخ دی. د اتومي، هایدروجني او نورو وسلو تر څنګ، چې یو ستر ګواښ د بشر لپاره دی، د صنعتي ملکونو د تولېداتو په ترڅ کې د نړۍ تودوښه هم لوړه شوې ده، چې په نړۍ کې د ژوند د ختمېدو پیلامه ده. د هندو چین نفوس ټوله نړۍ ګواښي، چې ټول بشر له لوږې سره لاس او ګرېوان شي.

اسلامي نړۍ د خپل جهاد په ترڅ کې د نړۍ یوه درییمه خلکو ته یې فکري ځولنې وراچولې دي او روحي یې بندیان کړي دي، په دیني او مذهبي جګړو یې اخته کړي او د جهاد في سبیل الله په بهیر کې یې د نړۍ امنیت ګواښلی، نو ټولو ته پکار ده، چې سر خپل ګرېوان ته ټیټ کړي او په دې فکر کې شي، چې خپل کور، ټاټوبی، کلی، سیمه او هېواد ښنګه جوړ کړي او د مملکت د پرمختګ او د خلکو هوساینې لپاره په ابتکار لاس پورې کړي او د ټولنې د پرمختګ پوتنسیال وګرځي.

کورونا نن سبا مخه روسیې، برازیل او په تېره بیا افغانستان ته کړې ده. روسیه خو به ځان تر یوې پولې وژغوري، د برازیل خو یې کوکې وایستلې، مګر افغانستان ډېر بې وزله دی، رهبران یې خرڅېږي، نو خلک باید ځان پر خدای وسپاري او پر ځان متکي شي. زما سپارښتنه ورته دا ده، چې هڅه وکړی په کورونو کې پاتې شی، له جموجوشه ځانونه وساتی، خوراک مو مناسب وکړی، په خوراک کې مو د آش، شکنې، ښوروا، چی او نورمایعات زیات کړی، له نسپړسي ډه ډه وکړی، خوب مو سم کړی، انشالله له دغه غمېزې به روغ ووځی!

هغه څوک چې په کورونا (COVID 19) اخته وي، باید جسماً محرک پاتې شي، یعنې آزاد سپورتي تمرینات وکړي، د تنفس یا ساایستنې تمرینات هم اړین دي. په ورځ کې تر ۳ – ۴ لیټره (اوبه، چی، د مېوې اوبه، ښوروا، شکنه، آش او برنج اب) باید وخوړل شي. ناروغ باید د خوب مناسب پروګرام ولري. د کوټې هوا باید هر ۳۰ ـ ٦۰ دقیقو کې تبدیله شي. د دوړو له بریده، سړو او زیات رتوبطه ځان وساتی. د جوش اوبو بخار تنفسول، چې ځان پرې ونه سېځي! اړین دي. له نورو کوروالو او خپلوانو ځان باید کرنټین کړی. دغه ناروغي کومه خاصه درملنه نه لري، نو د درد درمل لکه پاراسیتامول ښه دي، چې د ورځې تر ۴۰۰۰ ملیګرامه واخستل شي، خو د ینې حالت مو باید کنټرول شي. د نورو درملو له کارولو ډه ډه وکړی. د ساتنګي په ترځ کې د آکسیجن ډبې ته او د سږیو د جدارونو د پراخېدو درمل لکه سلبوتامول ته اړتیا لری. که نفستنګي ډېره پیاوړې وي او یا شي، باید د کورونا لپاره ځانګړشوي روغتون کې درملنه تر سره شي او ناروغ ته آکسیجن د تنفسي سیستم ماشین په مرسته ورکړل شي. باید یاده شي، چې د وایروسي ناروغیو په ترڅ کې اپورتونیستي باکتریاوې کېدلی شي د سږیو باکتریایي التهاب رامنځ ته کړي، نو د درملنې په ترځ کې د انتیبیوتیک کارول اړین دي. دا جوته شوې، چې د کورونا ناروغان د وینې له ګاټه کېدو هم د زړه یا ماغزو د سکتې په ترڅ کې مري، نو د وینې د رقیقېدو درمل (Fraxiparin 2X5600 iE Subcutan) هم باید د ناروغي له پیله وکارول شي، که دغه درمل نه وي، نو د (Aspirin 100 mg) تابلیتونه د ورځې یوه دانه باید ناروغ ته هرومرو ورکړل شي.

و من الله التوفیق